# شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**رسول الله (ﷺ) فرمايي:**

څوک، چي په الله تعالی او د آخرت په ورځ ایمان لري؛ نو هغه دي د خپل مېلمه عزت کوي.

[صحيح البخاري]

**رسول الله (ﷺ) می فرماید:**

کسي که به الله تعالی و روز آخرت ایمان داشته باشد؛ پس باید احترام مهمان خود داشته باشند.

[صحيح البخاری]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


شنبه| د رجب المرجب ۲۵-۱٤٤٦ل س/ د سلواغې ۷-۱٤۰۳ل ل/ د جنوري ۲٦-۲۰۲۵ز/ځلورم کال / ۱۳۰ گڼه/ ٤ مخیزه




## سرمقاله

### د افمیس سیستم نوې بڼه او پرمختگ

د افغانستان د مالي مديريت معلوماتي سيستم (AFMIS) يو پرمختللی برېښنايي سيستم دئ، چي د هيواد په عامه مالي سکټور کي د مالي چارو مديريت، مقرراتو، کنټرول او راپور ورکولو لپاره له ملي او نړيوالو معيارونو سره سم ډيزاين سوی دئ. د دې سيستم موخه د مالي معلوماتو مرکزي کول، له يوې نقطې څخه اداره کول او په ټولو بوديجوي واحدونو کي د مالي او محاسباتي پروسې متحد کول دي. افميس ډېر ماډيولونه لري؛ لکه: د بوديجې اجرا کولو مديريت، د خزاينو مديريت، د پېر يا خريدارۍ او لگښت ماډيول، چي د مالي مديريت ټول مهم اړخونه پوښي او په مالي معاملاتو کي د موثريت، کره والي او روڼتيا په ښه کولو کي مرسته کوي. د مالي معاملاتو په ثبت او تعقيب سربېره، د معاشونو او لگښتونو تاديه کول او د قراردادونو او عوايدو څارنه، د تفصيلي مالي راپورونو چمتو کول، هغه مهم ټکي دي، چي د پروسې د چټکتيا او روڼتيا له مخې مالي پرېکړې آسانه کوي.

د (AFMIS) پخوانی سيستم چي په (۲۰۰۲م) کال کي د نړيوال بانك په مالي همکارۍ د فري بيلانس شرکت له خوا ډيزاين او پلي سوی وو او ټولي تخنيکي چاري ئې د ياد شرکت لخوا پرمخ وړل کېدې، چي د ټيټ سرعت، له نوي ټکنالوژۍ سره د نه مطابقت او د مالکيت نشتوالي په وخت کي د ځواب نه ورکول او له موجوده مالي او بانکي سيستمونو سره د اتصال لوړو لگښتونو په څېر ننگونو سره مخ وو. له همدې امله د ماليې وزارت مشرتابه پرېکړه وکړه، چي دغه سيستم د ټولو اوسنيو اړتياوو په پام کي نيولو سره، د شته ننگونو د له منځه وړلو، د زياتو لگښتونو د مخنيوي او په سيستم کي د هر ډول بدلون د راوستلو وړتيا لرلو ته په کتو سره له سره جوړ سي.

د افميس نوی سيستم، چي د ماليې وزارت خزاينو د لوی رياست د تخنيکي او متخصص ټيم له خوا جوړ سوی، د هيواد د عامه مالي مديريت د ښه والي په برخه کي يوه ستراتيژيکه او اساسي لاسته راوړنه بلل کېږي. دا سيستم د مالي پروسو د اتومات کولو، په راکړو ورکړو کي د روڼتيا او دقت د باوري کولو او د خزاينو ستراتيژيکو او عملياتي اړتياوو ته د ځواب ويلو په موخه ډيزاين او جوړ سوی دئ. د دې سيستم د پراختيا ستراتيژيکي موخې د نقدي مديريت ښه کول، د مالي پرېکړو د چټکتيا او دقت لوړول او د امارتي ادارو د مالي چارو له اغېزمن اجراء څخه عبارت دئ. همداراز د افميس نوی سيستم له ملي او نړيوالو معيارونو سره سم په مالي معاملاتو کي د روڼتيا او پلټني اسانتياوي رامنځ ته کوي.

د دې سيستم يوه مهمه ګټه د ماليې وزارت د داخلي ټيم له خوا د دې سيستم پراختيا او مديريت دئ، چي د معلوماتو (ډېټا) امنيت او د معلوماتو بشپړ مالکيت تضمينوي. له تخنيکي پلوه، نوی افميس د دې وړتيا لري، چي له نورو کليدي سيستمونو سره وصل سي، لکه: د امارت د بوديجې پلان کولو او وړاندوينې سيستم (SBPS)، د تقاعد خزينې سيستم، د معاشاتو د مديريت سيستم ((ASYCUDA) ، TPMS) سيستم، د مالياتو د اداره کولو سيستم (SIGTAS) او د افغانستان بانك له سيستمونو سره د اتصال وړتيا لري. د افميس د نوي سيستم د پراختيا چاري د خزاينو لوی رياست د تخنيکي ټيم له خوا په دوه کلونو کي بشپړې سوي دي. د موجوده سيستم او مالي پروسو له مطالعې او د معلوماتو له را ټولولو وروسته، د نوي افمس سيستم د پراختيا چاري پيل سوي او د هر ماډل په بشپړولو سره اړونده ماډيول د افميس د تحليل او تطبيق څانگې له خوا په بشپړ ډول و ازمويل سو. دغه راز په بوديجوي واحدونو کي د وروستۍ ازموينې له ترسره کېدو مخکي د (AFMIS) نوی سيستم د خزاينو لوی رياست د مهمو څانگو د ارتباطي استازو له خوا په هر اړخيز ډول و ازمويل سو او له پوره ډاډ وروسته دغه سيستم په ځلورو دورو کي په څوارلس مرکزي وزارتونو او اته مستوفيتونو کي په برياليتوب سره و ازمويل سو او ښې پايلي ترې تر لاسه سوې. د سيستم د آزمايښتي تطبيق له پاره د ښوونکو روزنه هم يو له مهمو اقداماتو څخه ده؛ ترڅو د سيستم د کارولو په موخه بشپړ مهارتونه ترلاسه او نورو کاروونکو ته د سيستم د زده کړي مؤثر لېږد ډاډمن کړي او دا وړتياوي په دواړو سيستمونو کي و ازمايي.

د افميس د نوي سيستم پراختيا د ماليې وزارت د تخنيکي همکارانو د ژمنتيا، هلو ځلو او له تخنيکي ټيمونو سره د مشرتابه د ملاتړ او انگېزو پايله ده. همدارنگه، د نويو ټيکنالوژيو کارول او د عامه سکټور د مالي مديريت او معلوماتي سيستمونو د پراختيا لپاره د نړيوالو مېتودونو او معيارونو په پام کي نيولو سره په مختلفو پړاوونو کي د بشپړو ازموينو او د اړوندو څانگو همکارۍ د پراختيا په برخه کي مهم رول لوبولی دئ.

په پايله کي ويلی سو، چي د (AFMIS) د نوي سيستم پراختيا له نړيوالو معيارونو سره سم د مالي پروسې عصري کولو په برخه کي د ځان بسياينې او په مالي تخنيکي کارکوونکو کي د باور رامينځته کولو په لور د يوه اغېزمن گام د پورته کولو استازيتوب کوي. دا سيستم به د امارت د مالي مديريت په اسانتيا، د لگښتونو په کمولو او د روڼتيا او حساب ورکوني په باوري کولو کي مهم رول ولوبوي.

**درنښت**

**اداره**

# د روان کال په درېيمه ربعه کي د هيواد گمرکي چارو (۱۸،۴) سلنه پرمختگ کړی دئ




د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رئيس مولوي محمد حامد احمد په مشرۍ د روان (۱۴۰۳هـ.ل) کال په درېيمه ربعه کي په گمرکونو کي د ترسره سويو چارو د تخنيکي ارزونې ناسته پر ليکه او حضوري بڼه ترسره سوه.

په دغه ناسته کي د روان (۱۴۰۳هـ.ل) مالي کال په درېيمه ربعه کي په گمرکونو کي د تر سره سويو فعاليتونو ټوليز راپور وړاندې سو. په ياده موده کي د عوايدو د راټولېدو، د هيواد په گمرکونو کي د ترسره سوي سوداگرۍ، د وارداتي توکو د گمرکي ارزښت او د سوداگريزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه بشپړ معلومات وړاندې سول، چي له مخې ئې د پروسږکال همدې مودې په پرتله، د گمرکونو چاري (۱۸،۴) سلنه مثبتې وښودل سوې.

د وړاندې سوي راپور په تړاو هر اړخيز تخنيکي بحثونه وسول او د چارو د لا پرمختگ په موخه د ولايتي گمرکونو د مسئولينو ستونزې او وړانديزونه واورېدل سول، چي د رهبرۍ له لوري د ستونزو د حل ډاډ ورکړل سو او ورسره اړيني سپارښتني هم شريکي سوې.

# د نيمروز په گمرک کي د ۳۲ ميليونه افغانيو په ارزښت د موټرونو تمځای جوړ سو



د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست د څه باندې (۳۲) ميليونه افغانيو په ارزښت د نيمروز ولايت په گمرك کي د موټرونو له پاره تمځای جوړ او گټې اخيستني ته وسپاره.

دغه تمځای په (۴،۵) جريبه ځمکه کي جوړ سوی او پر يوه مهال د (۱۳۰) لويو باروړونکو موټرونو د درېدو ظرفيت لري.

د موټرونو په دې تمځای کي په اساسي ډول کانگرېټ اچونه سوې او د ټولو لازمو اسانتياوو درلودونکی دئ، چي ورسره به موټر چلوونکو، سوداگرو او د گمرك کارکوونکو ته په بېلابېلو برخو کي گټې اسانتياوي برابري سي.

د دغې پروژې مالي لگښت د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکړل سوی او چاري ئې هم د يوه افغاني شرکت له لوري په (۹) مياشتو کي بشپړي سوې. همدارنگه د (۵) سوه زره افغانيو په ارزښت د نيمروز ولايت گمرك د هنگرونو د بيارغولو پروژه هم بشپړه او گټې اخيستني ته وسپارل سوه.




**د گمرکونو او عوايدو معينيت د همغږۍ ناسته کي د نفتي موادو په برخه کي د سوداگرو پر ستونزو خبري وسوې**

م ۲



**د ماليې وزارت مقام د شکايتونو اورېدو خپلواک آمريت ۱۸ شکايتونو ته رسېدنه کړې**

م ۲



**د عوايدو لوی رياست د رهبرۍ پلاوي ناسته وسوه**

م ۲



**تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي په زياته اندازه قاچاقي توکي نيول سوي دي**

م ۲



**اهميت معيار های ارزيابی در مراحل داوطلبی پروژه ها**

م ۳




**روسيه افغانستان ته د ټرانسپورټي مسير غځولو لېوالتيا لري**

م ٤

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# د گمرکونو او عوایدو معینیت د همغږۍ ناسته کې د نفتي موادو په برخه کې د سوداگرو پر ستونزو خبري وسوې




د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معينيت د اړوندو رياستونو تر منځ د همغږۍ ناسته د گمرکونو او عوايدو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ د ياد معينيت د غونډو په تالار کې وسوه. د ناستې په پيل کې د گمرکونو او عوايدو معين د چارو د لا ښه والي په موخه اړوندو مسؤلينو ته پر خپل وخت سره د مراجعينو ستونزو ته د رسېدو او له دوی سره د غوره چلند، د کارکوونکو د وړتيا لوړولو، په چارو کې د همکارۍ او همغږۍ د لا زياتېدو او ځينو نورو برخو کې لازمي سپارښتني وکړې. ورپسې د ولايتي مستوفيتونو او گمرکونو ترمنځ د ښې همغږۍ رامنځته کولو په موخه د جوړې سوي کمېټې راپور وړاندې سو، چې د غونډې د گډونوالو له لوري پرې هر اړخيز بحث او په اړه ئې لازمي پرېکړې وسوې. سربېره پر دې د نفتي موادو د کيفيت او کنټرول رياست اړوند د ځينو سوداگرو پر ستونزو او حل لارو، د گمرکونو لوی رياست او د شکايتونو د اورېدو رياست پر ځينو موضوعاتو هم خبري او پرېکړې وسوې. د يادوني وړ ده، چې دغه ناستې د گمرکونو او عوايدو معينيت د اړوندو رياستونو تر منځ د گډو همکاريو د پياوړتيا په موخه جوړېږي، چې ورته ناستې به په راتلونکي کې هم ترسره سي.

## د ماليې وزارت مقام د شکايتونو اورېدو خپلواک آمريت ۱۸ شکايتونو ته رسېدنه کړې

د ماليې وزارت د شکايتونو د اورېدو خپلواک آمريت د دغه وزارت اړوند ټولو شکايتونو؛ لکه: فساد، کم کاري، کار ځنډوني او د يو شمېر مسؤلينو ناسم چلند ته د رسېدني مسؤليت په غاړه لري او ترلاسه سوي شکايتونه په مستقيم ډول د وزارت له مقام سره شريکوي. دغه آمريت د روان (۱۴۰۳) کال مرغومي (جدي) مياشتي له پيل څخه د دغي مياشتي تر پايه پوري په ټوله کې (۲۲) شکايتونه ترلاسه او اورېدلي دي، چې له دې ډلي څخه (۱۸) شکايتونو ته رسېدنه سوې، (۲) تر کار لاندې دي او (۲) نور شکايتونه د کافي معلوماتو او شکايت کوونکو له لوري د اثباتيه اسنادو د نشتون له امله د دغي اداري لخوا بې بنسته گڼل سوي دي.




له دې شکايتونو (۱۴) د وټس آپ له لاري، (۲) د ټيليفوني اړيکو له لاري او (۸) شکايتونه په حضوري بڼه له دې اداري سره شريک سوي دي، چې ياد شکايتونه د املاکو، تدارکاتو، مالي او منفکې په برخو کې دي، چې د دغه آمريت له لوري پر وخت رسېدنه ورته سوې ده. د يادوني وړ ده، چې ټول هيوادوال کولای سي، چې د ماليې وزارت د بېلابېلو څانگو په ځانگړې توگه د عوايدي سرچينو او د گومارني په برخه کې د اصلاحاتو په تړاو خپل شکايتونه، وړانديزونه او نظريات د برېښناليک، واټس آپ، ټيليفوني اړيکي، په حضوري بڼه او د شکايتونو د صندوق له لاري له دغي اداري سره شريک کړي، چې د شکايتونو د اورېدو آمريت به له طبقه بندۍ وروسته هر ثبت سوي شکايت ته په شفاف او تاکلي وخت رسېدنه وکړي.

د اړيکو شمېري: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰

واټس آپ نمبر: ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦

برېښناليک: Officialcomplaints@mof.gov.af

## دوکاندارانو، کوچنيو کاروباريانو او د جايدادونو مالکينو ته د مالياتي پوهاوي سيمينار جوړ سو



د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمريت له لوري د نهمي او نولسمي مالياتي حوزو دوکاندارانو، کوچنيو کاروباريانو او د جايدادونو مالکينو ته د مالياتو په برخه کې د رامنځته سويو اسانتياوو او کمښتونو په تړاو د عامه پوهاوي سيمينار جوړ سو. په دغه سيمينار کې د مالياتو د عامه پوهاوي کارپوه استاد عباد الله درمان، د يادو مالياتي حوزو عمومي مديرانو، کارکوونکو، دوکاندارانو، کوچنيو کاروباريانو او د جايدادونو مالکينو گډون کړی وو. د سيمينار په جريان کې د مالياتو د عامه پوهاوي کارپوه گډونوالو ته د هيواد د مالياتو په اړه، دوکاندارانو، کوچنيو کاروباريانو او د جايدادونو مالکينو ته د دوی په مالياتو کې د راغلو اسانتياوو او کمښتونو او همدارنگه د ماليه ورکوونکو د حقونو او مکلفيتونو په اړه معلوماتي پرزينټېشن وړاندې کړ. د سيمينار په پای کې د گډونوالو پوښتنو ته ځوابونه وويل سول او غوښتني ئې د مسؤلينو له خوا د عوايدو له رهبرۍ سره د شريکولو په موخه يادابښت سوې.

## د عوايدو لوی رياست د رهبرۍ پلاوي ناسته وسوه




د عوايدو لوی رياست د روان کال د رهبرۍ پلاوي ناسته د عوايدو لوی رئيس حافظ مولوي شاه حسين حسيني په مشرۍ د گمرکونو او عوايدو معينيت د غونډو په تالار کې وکړه. په دې ناسته کې د عوايدو لوی رئيس سربېره، د دغه رياست مرستيالانو، رئيسانو، سلاکارانو او مالياتي کارپوهانو گډون کړی وو. د عوايدو لوی رئيس په دغه ناسته کې له گډونوالو سره د عايداتي منابعو د کنټرول پر لارو چارو او هغو شرکتونو، چې په خپلو اظهارنامو کې خپل عوايد کم ښيي، اصلاحي خبري وکړې. د عوايدو لوی رئيس وويل، چې د دې له پاره، چې عوايد زيات سي او خپل اساسي هدف، چې په سالمه بڼه د عوايدو راټولول دي، ترلاسه کړو، بايد د مالياتو په برخه کې هغه منابع، چې فلج سوي دي بيا فعاله او د عوايدو نوي منابع پيدا کړو. د غونډې په جريان کې د مختلفو رياستونو له لوري د عوايدو د زياتېدو او د عوايدو د راټولېدو په برخه کې خپلي طرحي شريکي سوې.

## د لوگر مستوفيت د دغه ولايت د ټرافيکو او ټرانسپورټ له لويو مديريتونو سره د غير مالياتي عوايدو په تړاو خبري وکړې

د لوگر ولايت د مستوفي الحاج خليل احمد ابو احسان په لارښوونه د کوچنيو ماليه ورکوونکو او غير مالياتي مديريتونو استازو، د ټرافيکو او ټرانسپورټ لويو مديريتونو له استازو سره په شفافه توگه د غير مالياتي عوايدو د راټولولو په تړاو ناستي او خبري وسوې. په دغو ناستو کې د غير مالياتي عوايدو د راټولولو په برخه کې پر سته فرصتونو او ستونزو بحث وسو او ترڅنگ ئې د ټرافيکو او ټرانسپورټ لويو مديريتونو له خوا د ياد مستوفيت استازو ته د غيرمالياتي عوايدو د راټولولو په برخه کې د لا زياتو هڅو ډاډ ورکړل سو.

## تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کې په زياته اندازه قاچاقي توکي نيول سوي دي



د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست د گرځنده خارني کارکوونکو تېره اوونۍ د نيمروز، کندهار، فراه، هرات، ننگرهار او هلمند ولايتونو په بېلابېلو سيمو کې په زياته اندازه قاچاقي توکي نيولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي. په نيول سويو توکو کې (۱۷۲۷۲) کيلو گرامه مالگه، (۱۰۹۴٦) کيلو گرامه چاکلېټ، (۲۰۰۱۳) کيلو گرامه کينو، (۴۲۸۰) کيلو گرامه درمل، (٦۱۲۳) کيلو گرامه گوړه، (۴۸۹٦) کيلو گرامه پاکټي کوچ، (۳۰۹۸) کيلو گرامه شيريني باب، (۱۲۴۹) کيلو گرامه رُب، (۳۹۲) کيلو گرامه مکروني، (۹۸۴) کيلو گرامه خام نخود، (۲۴۰) کيلو گرامه يوناني بوټي، (۲۷۵) کيلو گرامه شامپو، (۱۷۵) گيلو گرامه نوشابه باب، (۱۷۰) کيلو گرامه د کبانو غوښه، (٦۱۵) کيلو گرامه غوړي، (۷۸) کيلو گرامه رخت باب، (۵٦) کيلو گرامه طبي توکي او (۱۰) عرادې موټر سايکلونه شامل دي. نيول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي.

## د عوايدو لوی رياست په تړاو نويو مقرر سويو کارکوونکو ته ټوليز معلومات وړاندي سول



د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمريت له لوري نويو مقرر سويو کارکوونکو ته د دغه رياست د ټولو اړوندو اړينو موضوعاتو په تړاو ټوليز معلومات وړاندي سول. په همدې تړاو جوړه سوې غونډه کې د عوايدو لوی رياست تخنيکي مرستيال عبدالولي نوري، د عوايدو د حقوقي خدمتونو او پاليسۍ رئيس مولوي نداء محمد صديقي، د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمر روزي محمد نېکمل او نويو گمارل سويو کارکوونکو گډون درلود . په دغه غونډه کې د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمر له لوري گډونوالو ته د عوايدو لوی رياست د اداري جوړښت، اهدافو، برېښنايي سيستمونو، اسانتياوو او نورو اړوندو موضوعاتو په تړاو هر اړخيز معلومات وړاندي سول. د غونډې په وروستيو کې د عوايدو لوی رياست تخنيکي مرستيال نويو مقرر سويو کارکوونکو ته په اخلاص، مسلکي او دقيقه توگه د چارو د ترسره کولو سپارښتني هم وکړې.

شتمنی SHTAMANI اوونیزه

# اهمیت معیار های ارزیابی در مراحل داوطلبی پروژه ها

عبدالبصیر عمرشاه خیل
محقق دکتورای اقتصاد و تجارت بین الملل

معیارهـای ارزیابـی در مراحـل مختلـف تدارکاتـی، ابزارهایـی هسـتند کـه بـه تصمیم‌گیرنـدگان کمـک می‌کننـد تـا فرآینـد تدارکاتـی را بـه صـورت شـفاف، منصفانـه و کارآمـد مدیریـت کننـد. ایـن معیارهـا بایـد در تمامـی مراحـل از برنامه‌ریـزی تـا ارزیابـی نهایـی بـه خوبـی تعریـف و اجـرا شـوند.

### ۱. مرحله پلان‌گذاری

در مرحلـه پـلان گـزاری، معیارهـای ارزیابـی بایـد کمـک کننـد تـا نیازهـای واقعـی شناسـایی شـده و برنامه‌ریـزی دقیـق انجـام شـود. ایـن معیارهـا عبارتنـد از:

۱،۱. وضوح نیازمندی‌ها: آیا نیازهای پروژه به صورت دقیق و واضح تعریف شده‌اند؟

۱،۲. تطابـق بـا بودجـه: آیـا برنامه‌ریـزی بـا بودجـه موجـود و محدودیت‌هـای مالـی سـازگار اسـت؟

۱،۳. زمان‌بندی: آیا جدول زمانی برای تکمیل تدارکات واقع‌بینانه و عملی است؟

۱،٤. همسویی با اهداف استراتژیک: آیا برنامه ریزی تدارکاتی با اهداف و سیاست‌های کلان سازمان مطابقت دارد؟

### ۲.مرحله تهیه اسناد داوطلبی

معیارهـای ایـن مرحلـه بایـد بـر کیفیـت و شـفافیت اسـناد تمرکـز داشـته باشـند و عبـارت انـد از:

۲،۱. شفافیت و جامعیت: آیا اسناد داوطلبی تمام اطلاعات لازم را دربر دارند؟

۲،۲. بی‌طرفی: آیا اسناد به گونه ای طراحی شده اند که هیچ‌گونه تبعیضی بین داوطلبان وجود نداشته باشد؟

۲،۳. سـازگاری بـا قوانیـن: آیـا اسـناد مطابـق بـا قوانیـن و مقـررات ملـی و بین‌المللـی تهیـه شـده‌اند؟

۲،٤. قابلیـت رقابـت: آیـا شرایط اسـناد باعث تشـویق تعـداد بیشـتری از داوطلبـان بـرای شرکـت می‌شـود؟

### ۳. مرحله آفرگشایی

در ایـن مرحلـه، معیارهـا بایـد بـه شـفافیت و بی‌طرفـی در بازگشـایی آفرهـا کمـک کننـد:

۳،۱. رعایت زمان‌بندی: آیا آفرها در زمان معین بازگشایی می‌شوند؟

۳،۲. حفـظ محرمانگـی: آیـا اطلاعـات داوطلبـان تـا زمـان بازگشـایی محرمانـه باقـی می‌مانـد؟

۳،۳. شـفافیت فرآینـد: آیـا رونـد بازگشـایی بـه صـورت عمومـی یـا تحـت نظـارت قانـون انجـام می‌شـود؟



۳،٤. دقـت در ثبـت اطلاعـات: آیـا تمـام آفرهـا بـه درسـتی ثبـت و مستندسـازی می‌شـوند؟

### ٤. مرحله ارزیابی آفرها

معیارهـای ایـن مرحلـه شـامل بررسـی دقیـق پیشـنهادات بـر اسـاس الزامـات فنـی و مالـی اسـت:

٤،۱. تطابـق فنـی: آیـا پیشـنهادات بـا نیازمنـدی هـای فنـی مشـخص شـده در اسـناد داوطلبـی مطابقـت دارنـد؟

٤،۲. قیمت‌گذاری: آیا قیمت پیشنهادی رقابتی و معقول است؟

٤،۳. ظرفیـت و تجربـه: آیـا داوطلـب توانایـی مالـی، فنـی و اجرایـی لازم بـرای انجـام پـروژه را دارد؟

٤،٤. زمان‌بندی تحویل: آیا داوطلب می‌تواند پروژه را در زمان مقرر تکمیل کند؟

٤،۵. ارزیابی ارزش بـرای پـول: آیـا پیشـنهاد ارائـه شـده بهتریـن ارزش را بـرای سرمایه‌گـذاری ارائـه می‌دهـد؟

### ۵. مرحله تصمیم‌گیری و اعطای قرارداد

معیارهـای ایـن مرحلـه بایـد تضمیـن کننـد کـه قـرارداد بـه مناسـب‌ترین داوطلـب اعطـا می‌شـود:

۵،۱. منصفانـه بـودن انتخـاب: آیـا انتخـاب براسـاس معیارهـای ارزیابـی از پیـش تعیین شـده انجام شـده اسـت؟

۵،۲. رعایت شفافیت: آیا فرآیند تصمیم‌گیری مستندسازی و قابل پیگیری است؟

۵،۳. قابلیـت اجـرای قـرارداد: آیـا شرایـط قـرارداد بـه گونـه‌ای اسـت کـه امـکان اجـرای موفـق آن وجـود دارد؟

مهمتریـن تأثیـرات مثبـت و منفـی معیـار هـای ارزیابـی در مراحـل داوطلبـی از منظـر پالیسـی هـا و طرزالعمـل هـای تدارکاتـی، برنامه‌ریـزی، اسـناد داوطلبـی، آفرگشـایی و ارزیابـی آفرهـا، عبـارت انـد از:

### ۱. تأثیرات مثبت:

۱،۱. از منظـر پالیسـی و طرزالعمل‌هـای تدارکاتـی:

۱،۱،۱. شـفافیت و انصـاف: معیـار هـای ارزیابی مشـخص و مـدون باعـث شـفافیت بیشـتر رونـد تدارکاتـی می‌شـوند و از اعـمال سـلیقه هـای شـخصی جلوگیـری می‌کننـد.

۱،۱،۲. سـازگاری بـا اهـداف سـازمانی: معیارهـای مشـخص کمـک می‌کننـد کـه سیاسـت هـای تدارکاتـی بـه اهـداف کلـی سـازمان هماهنـگ باشـد.

۱،۱،۳. پیشـگیری از تضـاد منافـع: تطبیـق معیارهـا بـا پالیسـی‌های مصـوب، امـکان تقلـب یـا سـوگیری را کاهـش می‌دهـد.

#### ۱،۲. از منظر پلان‌گذاری:

۱،۲،۱. بهبود پیش بینی: معیارهای واضح در ارزیابی، برنامه ریزی دقیق‌تر و زمان بندی مؤثرتری را فراهم می‌کنند.

۱،۲،۲. تخصیـص بهینـه منابـع: کمـک بـه تخصیـص مناسـب بودجـه و منابـع بـه پـروژه هـای اولویـت‌دار.

۱،۳. از منظر اسناد داوطلبی:

**۱،۳،۱. دقت و جامعیت اسناد:** معیارها باعث می‌شوند که اسناد داوطلبی جامع‌تر تهیه شده و تمام الزامات مشخص باشند.

۱،۳،۲. افزایـش رقابت‌پذیـری: معیـار هـای شـفاف، امـکان مشـارکت بیشـتر تأمین‌کننـدگان را فراهـم می‌کننـد.

#### ۱،٤. از منظر آفرگشایی:

۱،٤،۱. تسـریع رونـد تصمیم‌گیـری: معیـار هـای روشـن کمـک می‌کننـد تـا فرآینـد بازگشـایی و ثبـت آفرهـا سریع‌تـر انجـام شـود.

۱،٤،۲. کاهـش اختلافـات: تأمین‌کننـدگان درک بهـتری از رونـد آفرگشـایی خواهنـد داشـت، کـه منجـر بـه کاهـش اختلافـات می‌شـود.

#### ۱،۵. از منظر ارزیابی آفرها:

۱،۵،۱. ارزیابـی عینـی و منصفانـه: معیـار هـا، امـکان ارزیابـی دقیـق و بی‌طرفانـه را فراهـم می‌کننـد.

۱،۵،۲. انتخاب بهترین تأمین‌کننده: با توجه به معیار ها، گزینه‌ای انتخاب می‌شود که بیشترین تطابق را با نیاز ها دارد.

### ۲. تأثیرات منفی:

۲،۱. از منظـر پالیسـی هـا و طرزالعمـل هـای تدارکاتـی:

۲،۱،۱. پیچیدگـی بیـش از حـد: معیـار هـای بیـش از حـد پیچیـده یـا غیـرضروری ممکـن اسـت رونـد اجرایـی را کنـد کنـد.

۲،۱،۲. عـدم انعطاف‌پذیـری: سـخت‌گیری در تطبیـق معیارهـا می‌توانـد بـه عـدم تطبیـق بـا شرایـط خـاص منجـر شـود.

#### ۲،۲. از منظر پلان‌گذاری:

۲،۲،۱. تأخیـر در تصمیم‌گیـری: توجـه بـه جزئیـات معیارهـا ممکـن اسـت برنامـه ریـزی را زمـان بـر کنـد.

۲،۲،۲. هزینـه هـای اضافـی: تعییـن معیـار هـای پیچیـده ممکـن اسـت هزینـه هـای اجرایـی و مدیریتـی را افزایـش دهـد.

#### ۲،۳. از منظر اسناد داوطلبی:

۲،۳،۱. ابهـام در معیارهـا: عـدم تعریـف دقیـق معیارهـا می‌توانـد موجـب سـوءتفاهم میـان طرفیـن شـود.

۲،۳،۲. کاهـش مشـارکت: معیـار هـای سـختگیرانه ممکـن اسـت مانـع مشـارکت شرکـت هـای کوچـک یـا تـازه‌کار شـوند.

#### ۲،٤. از منظر آفرگشایی:

۲،٤،۱. افزایـش احتـمال اعـتراض: در صـورت ابهـام یـا ناعادلانـه بـودن معیارهـا، اعتراض‌هـا افزایـش می‌یابـد.

۲،٤،۲. زمـان بـر شـدن فرآینـد: بررسـی معیار هـای پیچیده در آفرها ممکن اسـت فرآیند بازگشـایی را به تأخیر بیندازد.

#### ۲،۵. از منظر ارزیابی آفرها:

۲،۵،۱. تأثیرگـذاری عوامـل انسـانی: حتـی بـا معیـار هـای واضـح، قضـاوت انسـانی ممکـن اسـت بـه خطـا هـای ارزیابـی منجـر شـود.

۲،۵،۲. نارضایتـی شرکت‌کننـدگان: اگـر معیارهـا بـه وضـوح بیـان نشـوند، نتایـج ارزیابـی ممکـن اسـت مـورد قبـول طرفیـن نباشـد.

### نتیجه‌گیری:

معیـار هـای ارزیابـی در تمـام مراحـل تـدارکات بایـد بـه شـفافیت، کارایـی و دسـتیابی بـه بهتریـن نتایـج کمـک کننـد. تدویـن ایـن معیارهـا بـه صـورت دقیـق و اجـرای آنهـا بـا نظـارت کامـل، می‌توانـد نقـش اساسـی در موفقیـت پـروژه هـای تدارکاتـی داشـته باشـد. معیـار هـای ارزیابـی در مراحـل مختلـف تدارکاتـی، نقـش مهمـی در موفقیـت یـا شکسـت پـروژه هـا ایفـا می‌کننـد. بـرای کاهـش تأثیـرات منفـی و افزایـش تأثیـرات مثبـت، لازم اسـت معیـار هـا بـه صـورت شـفاف، قابـل درک، متناسـب بـا شرایـط و اهـداف سـازمان تدویـن شـوند و نظـارت دقیـق بـر رونـد اجـرا صـورت گیـرد.

## اعلانات داوطلبی

### اعلان مزایده

ریاسـت عمومـی امـلاک امارتـی وزارت مالیـه دو جایـداد ذیـل واقـع ناحیـه اول و هشـتم شـاروالی کابـل را بـه شـکل آفـر سربسـته طـور جداگانـه بـه اعـلان مزایـده مـی سـپارد.

۱- سرای ورکشـاپ هـا بـه مسـاحت (۱۰۵۰) مترمربـع واقـع کابـل نـنـداری جـوار نمایشـگاه مربـوط ناحیـه ۸ شـاروالی کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (۲۰۱۰۰۰) افغانـی بـرای مـدت ۳ سـال.

کوردینات(جی پی اس نمبر): ٦۹،۱۹٦۹۹ ۳٤،۵۱۷٦۱

۲- یک باب مغازه نمبر اول به مساحت (۴۱.۵۶) مترمربع واقع سینما پامیر منزل اول تعمیر (۱۴) منزله مربوط ناحیه اول شهرکابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۱۱۰۰۰) افغانی برای مدت ۳ سال.

کور دینات (جی پی اس نمبر) ٦۹،۱۷۲٤۲ ۳٤،۵۱۳۲

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر را داشته باشند می توانند درخواست های شان را بعد از تاریخ(۳ دلو ۱۴۰۳ الی ۱٦دلو ۱۴۰۳) به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس:سینما پامیر تعمیر۱٤منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکزي.

شماره های تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷.

مجلس داوطلبی مزایده تاریخ ۱۷ دلو ۱۴۰۳ به ساعت ۱۰:۰۰قبل از ظهر برگزار میگردد.

### داوطلبی

مسـتوفیت ولایـت هـرات دوبـاب غرفه عکاسـی و فتوکاپی واقع ناحیـه اول شـاروالی، (داخل مجتمع اداری ولایـت) ملکیـت مقـام محـترم ولایـت هـرات را بـر اسـاس نـرخ همجـوار از طریـق داوطلبـی بـه صـورت آفـر گشـایی مطابـق بـه طرزالعمـل قـرار داد هـای امـلاک امارتـی بـه کرایـه میدهـد.

۱. غرفـه نمـبر (۵۱) بـا کرایـه ماهـوار (۳۱۲۹) افغانـی بـه کوردینـات (X-٤۲۸۰۰٦) و (Y-۳۸۰۱٤۰۷).

۲. غرفـه نمـبر (۵۲) بـا کرایـه ماهـوار (٦۰۰۰) افغانـی بـه کوردینـات (X-٤۲۷۹۷۲) و (Y-۳۸۰۱۳۸۵).

بنـاً اشـخاص حقیقـی و حکمـی کـه خواهـان کرایـه گرفـتن غرفـه هـای فـوق الذکـر هسـتند، درخواسـت هـای خویـش را بـرای مـدت (۲۱) یـوم اعتبـار از تاریـخ ۱ دلـو سـال ۱٤۰۳ الـی ۲۱ دلـو سـال ۱٤۰۳ بـه مدیریـت عمومـی امـلاک امارتـی مسـتوفیت ولایـت هـرات سـپرده، شرطنامـه را مطالعـه، تامینـات نقـداً اخـذ میگـردد.}

تاریـخ مجلـس داوطلبـی و آفـر گشـایی ۲۲ دلـو ۱٤۰۳ بـه سـاعت ۲ بعـداز ظهـر برگـزار میگـردد.

آدرس: مسـتوفیت ولایـت هـرات مدیریـت عمومـی امـلاک دولتـی

شماره تماس : ۰۷۹٤۳۸۹۸۹

# شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

د امتياز خښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي


ويبسايټ: mof.gov.af
اېکسپاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)







## روسيه افغانستان ته د ټرانسپورټي مسير غځولو لېوالتيا لري




د جېمزټاون فاونډېشن ـ THE GAMESTOWN FOUNDATION په نوم رسنۍ يوه تحليلي مقاله خپره کړې ده، په لړ توپير سره دريا – Daryo سايټ هم د يادي مقالې په اقتباس د افغانستان او روسيې د سوداګريزو او ټرانسپورټي اړيکو په هکله راپور خپور کړی دئ.

په دې ليکنه کي راغلي دي، چي پر روسيې بانديز د لوېديځوالو د فشارونو په وجه روسيه سوېلي اسيا ته لېوالتيا لري. وايي افغانستان او پاکستان ته د نړيوال شمال – سوېل ټرانسپورټي دهلېز (INSTC) غځول به د مسکو له پاره ځکه گټور وي، چي په منځني ختيځ کي د نظامي پېښو له پايلو څخه مخنيوی و کړي او پام سوېلي اسيا ته واړوي. تحليل ليکي، چي د ټرانس – افغان د مواصلاتو په پراختيا کي د روسيې گډون به ممکن د منځنۍ اسيا هيوادونو ترمنځ د گټو ټکر راولي، په دې چي ياد قطبي هيواد د اسلامي امارت په ملگرتيا کي خپلي ټرانسپورټي پروژې پلي کوي.

د روسيې د امنيت له وزير سره د اسلامي امارت د اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخوند د کتنې په تړاو ليکي، چي د اسلامي امارت په بيا راتګ سره پخوانۍ اعلان سوي سيمه ييزي او بين الحوزوي ټرانسپورټي پروژې بيا پيل سولي. په دې شننه کي راغلي دي، چي روسيه د افغانستان ټرانسپورټي مسير ته ځکه زړه ښه کوي، چي وايي «د افغانستان له لاري د نورو سوداګريزو لارو په پيل سره به د ټرانسپورټ لګښتونه ارزانه سي» او په دې سره به د روسيې په ګډون نور لوبغاړي د ټرانس - افغان مواصلاتو په پراختيا کي لېوالتيا ته وهڅول سي.

- د اسلامي امارت په بيا راتګ سره پخوانۍ سيمه ييزي او بين الحوزوي ټرانسپورټي پروژې بيا پيل سوې.
- د افغانستان له لاري سوداګريز پيل به ټرانسپورټي لګښتونه راکم کړي.
- د روسيې په ګډون به نور لوبغاړي هم د «ټرانس – افغان» مواصلاتو په پراختيا کي زړه ښه کړي.
- د دې نوښت په مرسته به له افغانستان سره د لويو ټرانسپورټي پروژو اقتصادي جذابيت ډېر سي.


مقاله زياتوي، چي مسکو د لوېديځ (د ترکمنستان له پولي څخه) او ختيځ (د اُزبکستان له پولي څخه) د ټرانس- افغان رېل پټلۍ د جوړولو ملاتړ اعلان کړی دئ. په دې نوښت سره به تاشکند او عشق اباد ته د ټرانسپورټ زمينه مساعده سي ـــ هغه داسي، چي له افغانستان سره به د دوی د مخکښو ټرانسپورټي پروژو اقتصادي جذابيت زښته ډېر سي. دا لاره به د هند په سمندر کي د نوي ټرانسپورټي دهلېز «سپينه روسيه – روسيه – قزاقستان – اُزبکستان – افغانستان – پاکستان» بندرونو سره سيالي وکړي؛ نو د ټرانزيټي جريان له لاسه ور کولو څخه د مخنيوي له پاره تاشکند اړتيا لري، چي د «کابل دهلېز» جوړولو کار چټک کړي. ورپسې کاږي، چي د سوېلي اسيا پر خوا د افغانستان له لاري ټرانسپورټ د اروپا له پاره يو مناسب بديل ښکاري.

دريا رسنۍ بيا په لږ توپير داسي ليکي، چي د «نړيوال شمال – سوېل ټرانسپورټي دهلېز» په نوم د ټرانسپورټ يو لوی نوښت اوسمهال د (۳) اصلي مسيرونو له لاري فعاليت کوي؛ لکه: د اذربايجان له لاري (لوېديځ)، د کسپين سمندرگي له لاري (کسپين ـ ټرانس) او د قزاقستان او ترکمنستان (ختيځ) له لاري؛ لاکن روسيه د څلورم مسير تصور هم کوي، يعني د افغانستان له لاري پاکستان ته د مسير اوږدول ور څخه عبارت دي. د دريا راپور ليکي، د تورغونډۍ – هرات – کندهار - سپين بولدک اورګاډي پټلۍ، چي ترکمنستان له پاکستاني بندرونو سره وصلوي؛ نو وايي دا پروژې لکه څنګه چي د کابل دهلېز (ترميز - مزار شريف -کابل - پېښور رېل پټلۍ) بشپړوي، ممکن د سيالۍ لامل هم و ګرځي.

په وروستيو کرښو کي د منځنۍ اسيا له پاره د محتاطانه چلند له پاره داسي سپارښته کوي: "د احتياط په توګه د منځنۍ اسيا د پينځو جمهوريتونو له پاره مهمه ده، چي د افغانستان له لاري د ټرانسپورټي لارو په پلي کولو کي همغږي وکړي او په دې مسئله کي دوه اړخيزه همکاري وکړي."




# Customs Affairs Surge in Progress by 18.4% in Q3 of Current FY1403



Under the chairmanship of the General Director of Customs of MoF, Maulawi Muhammad Hamid Ahmad, the 'technical assessment meeting' of the affairs carried out at the customs in the third quarter of 1403, was held online and in-person. In this meeting, a comprehensive report of the activities carried out at the customs in the third quarter of the current 1403FY was presented. In this period, complete information was provided about the collection of revenues, the business conducted at Afghanistan's customs, the customs value of imported goods and the number and registered weight of commercial cargo, in which the affairs of customs were observed 18.4% positive on the basis of YoY, compared to the same period of the last year. With regard to the presented report, technical discussions were held on all sides, and the obstacles and suggestions of the officials of the provincial customs were heard for the further development of the affairs as officials were assured for removing barriers.


### د شکايتونو اورېدلو خپلواک آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چي د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له خپلواک آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندي ادرسونو له لاري شريک کړي.

ټيليفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶ (+۹۳)

برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af



### د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومي ستونزي حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړيکه ونيسئ!
اړيکه: ۲۲۱

### رياست عمومی ګمرکات وزارت ماليه همېشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!

تماس: ۲۲۱



شتمني اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمي وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو څخه هيله کوو، چي خپلي مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.